مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

دستگیر روشنیالی ۲۰۱۷/۱۱/۲۹

د ستونزو ځواب د دي او هغه وګړي واکمني نه، د یوه سیستم واکمني ده

د افغانستان د ستونزو ځواب ددي او هغه خان، ددي او هغه ساده اندیښ او جیل سالار... واکمن کیدل نه دی. د افغانستان د ستونزو ځواب د یوه سیستم واکمن کیدل دي. یو بدلون منونکي او بدلیدونکي سیستم. یو سیستم چې د همیشه له پاره خان او پهلوان، بدماش او جیل سالار... په ځای کښینوي او سیاسي ادبیات له دي نومونو او القابونه د همیشه له پاره پاک شي. دلته سیاستونه بدل شول، دلته دولتونه او حکومتونه رنګ شول، یو بل پسي بهرني پوځونه راغلل او ولاړل، دلته ایدیولوژیګاني بدلي شوي، دلته څو ځله واکمني څیري بدلي شوي او یو په بل پسي واکمنان یا ووژل او یا هم بدل شول، خو په دي بدبخته هیواد کي نه جګړه ختم کیږي، نه امنیت تامین کیږي او نه په ټولنه کي ثبات شته دی. موږ همدارنګه د یوه بل حیرانونکی واقعیت شاهدان یو چي ټولي دنیا و نشوای کولای افغانستان له دي بحرانه را وباسي. اوس هغه وخت راغلی چي موږ باید لاره بدله کړو او له سره فکر وکړو. د جهان او ثبات لرونکو ټولنو تجربه را ښیي چي ټولنه ددي او هغه خان، ددي او هغه امیر ... د واکمني په ځای د سیستم واکمني ته ضرورت لري.

بلي، ټولنه په رهبرانو، خانانو، بابا ګانو، پهلوانانو، ساده ګانو، ریاکارانو... پسی د ګرزیدو په ځای باید سیستم جوړ کړي.یو سیستم چي په هغه کي هرڅه په خپل ځای وي. دین په خپل ځای، دولت په خپل ځای، فرهنګ په خپل ځای ... وي. یو سیستم چي په هغه کي د ټولني ټولي برخي فعالي او کار وکړي او یو بدلون منونکي او بدلیدونکي سیستم وي. تر څو دا ډول یو سیستم جوړ نشي دلته به همدا شان جګړي او بلواګاني رواني وي او دلته به همدا شان د ریاکارانو، غولونکو، خانانو، امیرانو، جیل سالارانو ... بازار ګرم وي.

دلته هیڅ جوړښت، هیڅ ارزښت، هیڅ نورم په خپل ځای نه دی. هیڅ یو یي خپل مشخص قلمرو نه لري او نه د نورو قلمرو او پولي پیژني. دین، سیاست، فرهنګ، رواجونه. دودونه، حاکمیت او حکومت له یو بل سره ګډ شوي دي او هر یو د تحمیل کولو هڅي کوي. دین د دین په ځای کي نه دی. فرهنګ د فرهنګ په شان عمل نه کوي اوسیاست خپلواکي له لاسه ورکړي او ناکام شوی دی.

دلته د سیستم نشتوالی او د جوړښتونو او ارزښتونو ګډودي یو توره او تړلي دایره جوړه کړي چي له یوې میلیوني ټولني یي د راوتلو لاره یي ورکه کړي ده. په عمل کي دي حالت ټولنه معیوبه کړي ده. همدي معیوب څرنګوالي په ټولنه کي سیاست د خان، د میر اوامیر، د غله او بدماش ... د لوبو او ځغاستو په میدان بدل کړی دی سیستم د وګړو په ځای په جوړښتونو او ارزښتونو جوړیږي. جوړښتونه په ارزښتونو تکیه کوي، په ارزښتونو توجیه او قانونیت پیدا کوي او د ارزښتونو په وسیله بدلیږي. په ټولنه کي همیشه دا سوال مطرح دی نن باید کوم ارزښتونه واکمن شي او څه ډول عمل وکړي او ددی معني دادي چي په ټولنه کي د انسانانو تر منځ اړیکي څه ډول تنظیم شي نن ټولنه څه ته ضرورت لري اوکوم ارزښتونه دي ضرورتونو ته ځواب ورکولای شي. خانان، بدماشان ساده اندیشان... ددي ضرورتونو ځواب نه دي.
یو سیستم باید جوړ شي چي د هغه په واکمني کي ټولنه د یوه ژوندي ارګانیزم په شان عمل وکړي. ټولنه یو ژوندي ارګانیزم دی او ژوندي ارګانیزم د هر څه په وړاندي عکس العمل ښیي.په یوه ژوندی ارګانیزم کي هر غړی خپله دنده او خپل رول لري او د هغه د هر غړي پاتي را تلل ټول ارګانیزم متاثیر کولای شي. یو فعال او سالم ژوندی ارګانیزم هغه دی چي ټول غړي یي اکتیف او فعال وي او د هر څه په وړاندي حساسه وي. یو سیستم چي په هغه کي د ټولني هر وګړي باید د سیاسي، ټولنیزپرمختګ په کار کي برخه واخلي او دا به په عملي توګه د ټولني بی تفاوتي له منځه یوسي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ